مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال

۲۰۲۵/۱۰/۱۰

# پر کابل باندې بمبار، یوه تاریخي ګستاخي

## او د افغانانو په ګډه- ملي حافظه کې یو لوی زخم

بېګاه شپه پر کابل پاکیستانیو الوتکو بمبار وکړ، د تلفاتو او تېپانو خبرونه ورکړل شوي دي. د کابل‌مېشتو پرجسمونو د ټپونو او ژوبلو تر خونړیو انځورونو ورهاخوا یو لوی، ژور او زهري ټپ د افغانانو په ګډه – تاریخي حافظه کې جوړ شوی، چې د یوه سرلوړي ملت په وړاندې دا ګستاخي به یوه مصنوعي او بې‌ملته پوځي چوڼي ته بدې پایلې ولري.

دا لومړی ځل دی، چې یو داسې ګاونډی د افغانستان د غرور پر پایتخت بمونه اوروي، چې افغانستان ورسره د ځمکې او ویشل شوي ولس دعوا لري.

د افغانستان پر پلازمېنه، کابل، لومړنی بمباري د افغان- انګریز درېیمې جګړې پرمهال انګریزانو وکړه. دا بمباري د دې نښه وه، چې افغان خپلواکي‌غوښتونکي ملت په مخامخ جبهاتو کې انګریز تر پوره فشار لاندې راوستی و.
تر دې روسته پر کابل بهرنی بمباری شورویانو او امریکایانو وکړې، چې د درېواړه زبرځواکونو په وړاندې د افغانستان د ملت په زړه و ذهن کې تاریخي کرکه او داسې ژور نفرت رامنځته شول، چې هېڅکله به یې د دې هېواد تاریخي حافظه هېره نه کړي.

خو دا ځل کیسه توپیر لري. دا ځل پاکیستان د تاریخي افغانستان پر پلازمېنه بمونه ورولي او د افغانستان ځمکنی بشپړتیا یې تر پښو لاندې کړې ده. هغه پاکیستان چې د ۱۹۸۰مې لسیزې په پای کې یې د ننګرهار په جګړه کې مخامخ پوځي مداخله شنډه او داسې یې پوزه په خاورو وموښودل شوه ، چې بیا یې د افغانستان خوا ته راکتل هم ناشونې انګېرل کېدل. خو دا دی نن پاکیستان د انګریز له لمنې د رازېږېدو له زماني او په خپل ټول عمر کې لومړی ځل دومره جرئت وموند چې کابل بمباري کړي.

داسي ولې کیږي؟

د سړې جګړې کلونه وو، چې د برېژینسکي – کارتر د دکتورینو له مخې په افغانستان کې د «جهاد» تنور اورغړاند شو او د افغانستان د خلکو ذهن یې د افراطیت په لوګیو لوغړن کړ. لا د محمد داودخان جمهوریت واکمني وه، چې څه کسان د پېښور په بالاحصار کې وسله‌وال کړل شول او په افغانستان کې یې د هرې واکمنۍ په وړاندې د جګړې لپاره روزنه پیل شوه. له دې تودې جګړې سره د تبلیغاتو او پروپاګند داسې نړیواله څپه راپورته شوه، چې په زور یې تر قیامته افغانستان دارالحرب اعلان شو. پاکیستان چې غوښتل په افغانستان کې خپل ستراتیژیک عمق پالیسي عملي کړي د دې جنګ و جهاد د مدیریت ټیکه واخیسته او د څلورو پرلپسې افغان نسلونو په ذهنونو کې یې ځان دارالهجرة، دارالنصرة، دارالجهاد او قلعهٔ اسلام اعلان کړ او خپل خلک یې انصار وبلل. بلاتشبیه پاکیستان ته یې د نبوي هجرت د زماني د یثرب یا مدینه منورې حیثیت ورکړ.

پاکیستان شپېته زره مدرسې او سلګونه معهدونه جوړ کړل، له امریکایي ډالرو رانیولې تر عربي پیسو او وسلو پورې پرې رامات شول او په دې مدرسو کې یې د بېوزلو افغان کډوالو معصوم بچیان د دیني زدکړو پرځای په افراطیت روږدي او په وسلو سمبال کړل. زرګونه چاپي خپروني، نړیوالي راډیوګاني او روسته تلویزیونونه لګیا وو او پاکیستان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

يې د افغانستان په قضيه کې د مقدسې زمکې په توګه معرفي کاوه. اسلام له پاکيستان سره مترادف وګڼل شو او د افغان تنکيو ماشومانو په ذهنونو کې:

۱ـ پاک سرزمين شاد باد!
۲ـ مطالعه پاکيستان
۳- پاکيستان کا مطلب کيا، لااله الاالله
ورپيچکاري کړل.

په همداسې يوه تبليغاتي چاپيريال کې روزل شوي نسلونه رالوی شول او په افغانستان کې پرېمانه وينې وبهېدې، وطن وران شو، خپلې ملي شتمنی يې وبايللې، افراطيت او خرافاتو ورو ورو د معتدلې او سولهخوښې عقيدې ځای ونيوه، کابل د پاکيستاني استخباراتو د شعار له مخې وسوزېد او لولپه شو.

په پاکيستاني مدرسو کې رالويو شويو او روزل شويو خليفهګانو، شيخانو او زهادو په هر دريځ او له هر لوډسپيکر څخه پاکيستان ته دعاګانې پيل کړې او دا هېواد يې د اسلام مدافع وګڼه.

اوس نو پوښتنه راپېښيږي، چې د داسې يوه واکمن نسل لپاره د پاکيستان بمباري تېرى او اشغال ګڼل کيږي که نه؟ ايا د دوی لپاره د « اسلامی جمهوريه اف پاکيستان» بمباري له انګريزي، شوروي يا امريکايي بمباريو سره برابره ګڼل کېدای شي؟

ايا دا بمباري به د دوی په ضمير او ګډه حافظه کې هماغسې غوسه و قهرجن غبرګون راوپاروي، لکه د شوروي يا امريکايي بمبارونو پرضد چې د ملت په تاريخي حافظه کې ثبت شوی ده؟

د داسې تيري او اشغال په وړاندې ملي ولولې او ودرېدل خو ملي احساس او غرور غواړي، هغه څه چې د اوسنيو واکمنو له نظره له کفر سره معادل ګڼل کيږي. د اوسنيو واکمنو روحاني مشرانو ګڼ ځله د «ملي» کلمه او مفهوم تکفير کړي دي.

پاکيستان د تاريخي افغانستان خاوره لاندې کړې او يو لوی ملت يې په دوه ټوټو سره وېشلی دی، خو دغه تاريخي دوښمني يې د يوشمېر افراطي ډلو په ذهن و زړه کې د عقيدې په قلعي داسې پوښلې، چې د افغان ملتپالني حس او ولولې يې ورلاندې خښې کړې دي.

په هرصورت، افغان ملت لا ژوندی دی. زخمي به وي. وسلې به يې پر پاکيستان په کباړ کې پلورل شوې وي. د کباړ په بيه د سلګونو جنګي الوتکو نښې به يې د خپلو پوځي هوايي ډګرونو ترمخ د بري د نښې په توګه درولې وي، خو دا ملت لا ژوندی دی او خپله تاريخي حافظه لري. د افراطيت او ضد ملي تبليغاتو د افيونو اغېز به ورو ورو لږ شي او افغانيت به سر راپورته کړي.

پاکيستان ښه ونه کړل، د کابل په بمبار يې د يوه لوی ملت حافظه زخمي کړه. پاکيستان به اتومي وسله لري، ځوومه درجه پوځ به هم لري، ودان به هم وي، خو ملت نه لري. افغانستان ملت لري او دا ملتونه دي، چې تاريخونه جوړوي. دا تېرى او دا تاريخي زخم دې نښه وي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ